# د شهيد بشيراحمد بلور د شهادت دريم کال



## ما ته په خپل ورور شهيد بشيراحمد بلور فخر دے (حاجي غلام احمد بلور)

د پېښـور گـورگټهړۍ هال کښې د شهيد بشيـر احمد بلور د شهادت دريمه کليزه ونمانځلے شوه. د کليزې د دستورې انتظام د عوامي نيشنل

## د پښتنو د ترهگرۍ او انتها پسندۍ سره هيڅ تعلق نشته (افراسياب خټک)

پارټۍ پېښور ښار ضلعي تنظيم کړے ؤ. دستوره کښې د عـوامي نيشنل پارټۍ مرکزي او صوبائي مشـرانـو گډون وکړو او شهيـد بشيراحمدبلور ته ئې د عــقيــدت پېـرزونې وړانـدې کړې. کـومـو مشـرانو چې دې دستوره کښې په خصوصي توگه گډون کړے ؤ هـغـو کښې د عوامي نيشنل پارټۍ مـرکزي نائب صدر حاجي غلام احمدبلور، مرکزي

## پنجاب کښې ترهگرو ته لاس نه شي اچولے (ميا افتخارحسين)

جـنرل سکتر مياافتخارحسين، ښاغلي افراسياب خټک، د گـونـد د پښتـونخوا صدر اميرحيدرخان هـوتـي او جنر سکتر سردارحسين بابک د ذکر وړ دي. د کـليـزې دستوره کښې په گڼ تعداد کښې د پـارټۍ کـارکـنـانـو او نورو خلقو شرکت وکړو. د گـوند مشرانو په دې موقعه خپلو تقريرونو کښې شهيـد بشـراحـمـد بلور سره سره د ټولو شهيدانو مبـارزې،زړه ورتيا او قربانو ته په شاندارو الفاظو کښې د عــقيــدت پېـرزونې وړانـدې کړې او وې وئيـل چې اوس تـقـريبـاً د مـلک ټـول سيـاسي

## د بشیر احمد بلور خپلې خاورې او خلقو سره ډېره مینه وه (امیرحیدرخان هوتي)

ګوندونه په دې متفق دي چې روان جنګ د چا بل چا دپاره نه بلکې زمونږ د سلامتیا او ژوند دپاره جنګ دے. خو د دې نه مخکښې چې عوامي نیشنل پارټۍ پرله پسې د حملو نخښه وه او په سوات کښې د سوات د خلقو د آزادولو دپاره چې عوامي نیشنل پارټۍ کومه مبارزه کوله. کوم اپریشن ئې کولو نو مونږه یواځې پرېښولے شوي وو.

میا افتخارحسین خپل تقریر کښې ووئیل چې په بدو کښې د ښو او بدو لټولو د سوچ

## وفاقي او صوبائي حکومتونه د ترهګرۍ په حق له د ابهام او مصلحت ښکار دي (سردار حسین بابک)

ختمولو نه بغېر د ترهګرۍ خلاف کاروائیانې اثرناکې نشي جوړېدے. دهٔ ووئیل چې په نیشنل ایکشن پلان د دې د روح او ضرورت مطابق عمل نه کېږي. که کېدے نو د پنجاب په درځنونو انتهاپسند ګروپونو سره به رعایت نه کېدو. د ښو او بدو طالبانو تصور غلط دے. دا ټول سړي خوارهٔ دي او د دوي سره څه قسمه رعایت مطلب د پاکستان سلامتیا په داؤ لګول دي. دهٔ ووئیل چې عوامي نیشنل پارټي د شهید بشراحمد بلور غونډې شهیدانو باندې فخر کوي.

په دې موقعه ښاغلي افراسیاب خټک ووئیل چې د پښتنو د ترهګرۍ او انتهاپسندۍ سره هیڅ تعلق نشته او د پاکستان امن د افغانستان د امن سره تړلے دے.

امیرحیدرخان هوتي خپل تقریر کښې ووئیل چې بشراحمد بلور یو بهادر او زړهٔ ور لیډر ؤ. د دهٔ د خپلې خاورې او خپلو خلقو سره بې حسابه مینه وه.

سردارحسین بابک په دې موقعه ووئیل چې وفاقي او صوبائي حکومتونه تراوسه د ترهګرۍ په حق له د مصلحت او ابهام ښکار دي او د پښتنونخوا حکومت خو لا طالبانو دپاره د دفتر پرانستو کوششونه هم کول.

حاجي غلام احمد بلور خپل خطاب کښې ووئیل چې دهٔ ته په دې ډېر زیات فخر دے چې دے د شهید بشیراحمد بلورورور دے. مونږ به د دهٔ نظریه،بهادري او مبارزه په مخکښې بوځو او د عوامي نیشنل پارټۍ په مبارزه کښې به خپله برخه اچوو څکه چې په دې خاوره امن زمونږ د راتلونکي نسل دپاره ضروري دے او مونږ به دا ذمه واري ضرور پوره کوو؟

مرګ خو د شهید وي په شرنګا د سپینو تورو کښې
ورکې شه سلګۍ د زنکدن په بسترو کښې لا

☆☆☆